UNHCR
The UN Refugee Agency
60 YEARS • ANS

نړیوال بانک
له بي وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

# څېړنيزه مطالعه د افغانستان په ښارونو کې د داخلي بې ځايه شويو د زيان منني څرګندويي کوي او له دوام لرونکو حل لارو څخه د ملاتړ له پاره د يوې جامع کړنلارې غوښتونکې ده

**کابل ،افغانستان د جون ۱، ۲۰۰۱م:** د UNHCR اداري د نړيوال بانک په همکارۍ د کابل، کندهار او هرات په ولايتونو کې د داخلي بې ځايه شويو په اړه يوه څېړنيزه مطالعه ترسره کړې ده، ترڅو له دې لارې د هغو بې ځايه شويو کورنيو، چې د ښارونو په مرکزونو کې ژوند کوي، د ځانګړتياوو، د ژوند تيرولو د ستراتيژيو او زيانمننو په ښه پوهيدنې سره له هغوی سره د مرستو په منظور د يوې دوام لرونکې حل لارې د موندلو له پاره هلې ځلې وکړي. په مجموع کې له ۴۵۰ کورنۍ سره (له ۱۵۰ کورنيو سره د هر ښار په دريو سيموکې) مرکې وشوې، چې د مطالعې له پاره لومړني ارقام برابر کړی.

دغه څېړنيزه مطالعه څرګندوي چې د شخړو او لانجو له امله داخلي بېځايه کيدنې،د بيا ميشت کيدنې له پاره محدود فرصتونه، د ښارونو چټکه وده او د بې ځايه شويو له پاره استوګنې، نا پلانې ځايونو زياتوالی، د هغو ستونزو او ننګونو (چيلنجونو) له جملې څخه دي چې په افغانستان کې د دولت، ښاروالیو او د بشری او پرمختيايي برخو د کارکوونکو په وړاندې پرتې دي.

دغه مطالعه ،چې په افغانستان کې د غربت او بيوزلۍ د اندازې په اړه د نړيوال بانک د څېړنوستره برخه جوړوي، د داخلي بې ځايه شويو کلکه زيانمننه، ان دا چې د هغوښاري بيوزلو د ځانګړنو په پرتله، چې د ملي زيانمنني او خطرونو د ارزيابۍ (NRVA۱۳۸۷) پربنسټ د نړيوال بانک د غربت او بيوزلۍ د وضعيت په رپوټ کې، په تفصيل سره تشريح کړې ده.

*"دغه څېړنه د بې ځايه کيدنې او د دې خطر په اړه حقايق په ګوته کوي، چې ناپلان شوې ښارې وده ټول قشرونه او ټولنې د کلک غريب اوبيوزلۍ په وړاندې له زيانمننې سره مخامخ کوي."* دغه مطلب **په افغانستان کې د نړيوال بانک رئيس ښاغلی نيکو لاس کرافت** څرګند کړ، زيانه يې کړه: *"موږ هيله من يو چې د ښارونو د پراخې پرمختيا ، دعامه پاليسۍ او ډيرو زيانمن شويو وګړو سره د مرستې د لارو چارو د څرنګوالي په اړه دغه تحليلونه او بحثونه د افغانستان د خلکو ترمينځ نقش ولري."*

**د دې څېړنې سترې موندنې دا لاندې موارد دي:**

- په داسې حال کې چې شخړې او نا امنۍ معمولاً د بې ځايه کيدونکو له پاره د فشار اصلي عوامل او لاملونه دي، اقتصادي مسايل، لکه غذايي مصونيت او د کارغوره فرصتونه، بيا د ښارونو د مرکزونو په لوري د مراجعې اوکډوالۍ مهم عوامل دي.
- د ښارونو په مرکزونو کې ځای پرځای کيدنه ډيره لږه مؤقتي وي. د داخلي بې ځايه شويو په سلو کې ۷۰کورنۍ، چې مرکې ورسره شوي دي، له دوو کلونو څخه د زيات وخت له پاره يې په نا پلان شويو ځايونو کې استوګنه کړې او په سلو کې له ۹۰ څخه زيات يې غواړي چې په دغو ځايونو کې د تل له پاره استوګنه وکړي.په سلو کې ۸۰ يې څرګنده کړی چې خپلو سيمو ته دهغو د بيرته ستنيدلو په اړه يې د بې علاقه ګۍ علت په هغو ځايونو کې د ژوند تيرولو د فرصتونو نشتوالی دی.
- داخلي بې ځايه شوي، چې د ښار په ناپلان شويو ځايونو کې ژوند کوي، د ښار د نورو غريبو او بيوزلو خلکو په نسبت ډير زيانمن کيدونکي، بې برخې او له ډيرو ستونزو او ننګونو، لکه بيکاري، مناسب استوګنځي ته د نه لاس رسی او د امنيت له نشتوالي سره مخامخ وي.
- داخلي بې ځايه شوي د کار په بازار کې ډير لږ فرصتونه په لاس کې لري، چې د دې ستر علت يې له ښاري اقتصاد سره د متناسبو مهارتونو نه لرل او د ښارد غريبو او بيوزلوخلکو په پرتله د سواد د کچې ټيټوالی دی، چې دا د غربت او بيوزلۍ په وړاندې د ډيرې زيانمنني او د ټيټ ظرفيت د لرلو په معنا دی.
- زياتره داخلي بې ځايه شوي په داسې ناپلان شويو ځايونو کې استوګنه کوي چې د هغو د روغتيا ساتنې شرايط ډير ناوړه دي او هغو ته اساسي خدمتونه ډير لږ وړاندې کيږي. د داخلي بې ځايه شويو په سلو کې ۷۰بريښنا، د څښلو

کافي او بو او د روغتیا ساتني اسانتیاوو ته لاس رسی نه لري ، په داسې حال کې چې د ښاري غریبو او بیوزلو وګړو یوازې په سلوکي ۱۸یې له ورته ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي.

- داخلي بې ځایه شوي د ښار د غریبو او بیوزلو وګړو په پرتله په ډیرو ستونزمنو شرایطوکي ژوند کوي، چې دا کار د هغوی د ژیان منني له سترو عواملو څخه دی. د بې ځایه شویو په سلوکي ٦۰یي په خیمو، کوډلو او مؤقتي سرپناوو کې ژوند کوي او په سلو کې ۸۵ داخلي بې ځایه شوي د ځمکې د ملکیت سندونه نه لري، چې دا شمیر دښار د غریبو او بیوزلو خلکو ترمینځ یوازې په سلو کې ۲۵دی.
- داخلي بې ځایه شوي، چې په ناپلان شویو ځایونو کې ژوند کوي ، په لومړیو کلونو کې د غذایي مصؤنیت د نشتوالی په وړاندې په کلکه زیانمن کیږي. په سلو کې ٤ ۱داخلي بې ځایه شوي، چې د دې مطالعې تر پوښښ لاندې راغلي، دایې څرګنده کړی ده چې هغوی د خپلو غذایي اړتیاوو د پوره کولو له پاره په یوه میاشت کې څو ځله له ستونزو سره مخامخ کیږي، چې دا د ښار د بیوزلو او غریبو خلکو په پرتله تقریباً پنځه برابره زیات دی.

**دغه مطالعه د افغانستان له دولت او نړیوالي ټولني څخه په ټینګار سره غواړي چې:**

- یوازې د بشر دوستی له کړنو څخه دي پورته ولاړ شي او دهغو داخلي بې ځایه شویو له پاره دې د یوې پایښت لرونکي حل لارې په لټه کې شي، چې په ناپلان شویو ښارګوټو کې ژوند کوي.
- په ښاري سیمو کې د بې ځایه شویو په اړه دې یو جامع، هراړخیزه او منظمه پرمختیایي کړنلاره رامینځته کړي او
- د څارني او همغږی اوسني موجودي هلي ځلي دې د ښاري داخلي بې ځایه شویو سملاسي اړتیاوو په هدف ګرځولو کې، په ځانګړې توګه د بې ځایه کیدني په لومړیو پړاوونو کې پیاوړې کړي.

*"دافغانستان له دولت سره دمرستي نهایي موخه او هدف د پایښت لرونکی حل لارې د موندني له پاره د یوې جامع ملي تګلارې رامینځته کول او له بشري ټولنې سره مرسته ده چې له داخلي بې ځایه شویو اړتیاوو او دمرستو وړاندې کولو ته په اغیزناکه توګه رسیدنه وکړي."* دغه مطلب په **افغانستان د UNHCR د نمایندګی د دفتر رئیس ښاغلي پیټرنیکولاس** څرګند کړ.

همدارنګه په دې مطالعه کې توصیه شوې، چې دهغو داخلي بې ځایه شویو د ستونزو د حل لارې موندني له پاره دي، چې له ډیرې مودې راهیسې یې په دغه حالت ژوند کړی دی، د سیمه ییزیا محلي ادغام له لارې، د دې په پوهیدو سره، د بې ځایه شویو پراخه اکثریت، چې په ښارونو کې اوسیږي، او نه غواړي چې خپلي اصلي سیمي اواستوګنځي ته ستانه شي، تمرکز صورت ونیسي. په دې رپوټ کې راغلي دي چې داخلي بې ځایه کیدني، د دوام لرونکي ناامنی په بهیرکې، کې زیاتوالی ونه مومي، په زیات احتمال به دوام ومومي. همدارنګه په دې رپوټ کې ټینګار شوی دی، چې د ښاري پراختیا د پالیسی رامینځته کولوته، د مناسب استوګنځی د برابرولو له پاره ، د ملکیت مصؤنیت او د هغو د بې ځایه شویو له پاره اساسي خدمتونو ته لاس رسی، چې غواړي په ښاري سیمو کې استوګنه وکړي، ستره اړتیا لیدل کیږي.

**مطبوعاتوته یادښت:** په افغانستان کې شاوخوا ٦٦ ۴۳۳۰۶ تنه، چې ۷۰۷۹۲ کورنی کیږي، په بې ځایه شوي حال کې ژوند کوي. له دوی څخه ۱۱۷۰۱۱ تنه یې د ۲۰۰۲ میلادي کال د دسمبر له میاشتې څخه د مخه له خپلو استوګنځیو څخه بې ځایه شوي وو. د ۲۰۰۹ میلادي کال د جون له میاشتې څخه د ۲۰۱۱ میلادي کال ترمارچ پورې شاوخوا ۲۲٦٦۸۲ تنه د هیواد په جنوبي سیمو کې د نښتو او جګړو له امله له خپلو استوګنځیو څخه بې ځایه شوی دي. د رپوټ شمیری او ارقام اټکلي دي، دقیق نه دی.

د زیاتو معلوماتو له پاره له لاندې اشخاصو سره اړیکي ونیسئ:


عبدالروف ضیاء
د عامه اړیکو مسوول، نړیوال بانک
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org

محمد نادر فرهاد
د عامه اړیکو مسوول، په کابل کې UNHCR دفتر
۰۷۹۹۲۰۵۷۱۱
farhadm@unhcr.org